مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهولی ارین

۲۰۲۶/۱۱/۱۵

د مخدره توکو کر، تولید او استعمال

(پنځمه او وروستۍبرخه)



د مخدره توکو پر وړاندې د طالبانو کمپاین چې په ۲۰۲۱ کال کې واک ته د هغوی له رسېدو سره سم پیل شو، د کوکنارو په کښت کې د پام د وړ کمښت لامل شوی او د افغانستان د مخدره توکو اقتصاد يې اړولی دی. د مخدره توکو پر وړاندې د طالبانو هڅې چې ایډیالوژیکي انګیزه لري، د مخدره توکو د معتادینو راتولول، د کوکنارو د کروندو اړول او د مخدره توکو د بازارونو ټړل په بر کې نیسي.

ټولو ته معلومه ده چې د امریکايي استعمار او د هغه وخت د افغان حکومت د ناوړه او غلطو سیاستونو له امله په ډله ایزه توګه افغانان د کوټه سنګي، کابل سیند شاوخوا په کابل او ولایاتو کې موجوده تفریحي پارکونه د زرګونو معتادینو په هستوګنځای بدل شوي وو، خو طالبانو په دغه برخه کې ستر ګام پورته کړ دغه معتادین يې ټول راټول کړل او د درملنې مرکزونو کې تنظیم کړل.

سره له دې چې د طالبانو دغه بندیز د میلیونونو خلکو په تېره بیا د بې وزلو کارګرو او کلیوالي مېرمنو ژوند اغېزمنوي. خو اړتیا لیدل کېږي چې طالبان د دغو بې وزله کرونګرو سره لازمي مرستې تر سره کړي. همدا اوس هم ګڼو کروندګرو نورو کښتونو لکه د غنمو کښت او زعفرانو ته مخه کړې؛ خو دغه کروندګر د لږ عاید له ستونزو کړېږي. بهرني مرسته کوونکي چې په افغانستان کې د مخدره توکو د تولید له کموالي څخه ډېره ګټه ترلاسه کولی شي، باید له مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې د طالبانو د هڅو ملاتړ وکړي او مشروع اقتصادي وده وهڅوي.

په ورته وخت کې، طالبان باید د بېوزلو کروندګرو ژوند ته پاملرنه وکړي او دغه بندیز په مرحلییز ډول عملي کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دغه بندیز په پایله کې د کوکنارو په کښت کې د پام وړ کموالی راغلی، خو په افغانستان کې تولید شوي مخدره توکي لا هم نړیوالو بازارونو ته عرضه کېږي؛ ځکه چې د دغو توکو کاروباریان د خپلو ذخیرو پلور ته دوام ورکوي او ځینې کروندګر د بندیز پر وړاندې مخالفت کوي. د طالبانو کمپاین د کروندګرو او کلیوالي کارګرو لهپاره چې د کار ډېر محدود بدیلونه لري، د اقتصادي فرصت څرک له منځه وړی. په دې ډله کې په ځانګړي توګه مېرمني ډېرې زیانمنې شوې دي.

د مخدره توکو پر وړاندې د طالبانو کمپاین په ډېر جدیت سره مخ ته روان دی، د دغه بندیز تمرکز تر ډېر حده په کوکنارو دی، چې د افغانستان د کرنې د سکتور مهمه برخه ده. بندیز په نرمۍ سره پیل شو، خو سخت شوی دی. طالب ځواکونو لومړی له اسانه اهدافو څخه پیل وکړ او د اپینو روږدي یې زندانونو یا هم د درملنې مرکزونو ته ولېږدول. ورپسې یې کروندګرو ته چې له پېړیو راهیسې کوکنار کري، د یاد بوټي د نه کرلو په اړه خبرداری ورکړ. کله چې خبردارۍ کار ور نه کړ، د کلیوالو د مهار او د کښتونو د اړولو لهپاره یې له خپلو ځواکونو ځخه استفاده وکړه. په پایله کې، د ملګرو ملتونو اټکلونه ښیي چې په افغانستان کې د کوکنارو کښت(۹۵) سلنه راکم شوی دی، چې دا په معاصر تاریخ کې د کوکنارو پر وړاندې د مبارزې د نورو کمپاینونو په پرتله لوړ رقم څرګندوي. پر دې حقیقت سربېره چې د مخدره توکو یو شمېر قاچاقبرانو له لسیزو راهیسې د طالبانو د تحریک ملاتړ کړی، طالبانو د هغوی پر وړاندې هم خپل فشار ته ادامه ورکړه. طالب چارواکو تازه د مخدره توکو یو شمېر بازارونه تخریب او سلګونه کاروباریان یې ونیول.

که له یوې خوا د بندیزونو په پایله کې د بیو د لوړېدو له کبله د مخدره توکو لوی کاروباریان او ځمکه‌وال ډېره ګټه پورته کوي، خو له بل پلوه ګڼ شمېر کروندګر ورسره زیانمنېږي. د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې د کوکنارو پر کښت د بندیزونو له کبله کابو اووه میلیونه خلک زیانمن شوي دي. شوني نه ده چې دغه خلک دې په یوه داسې راکد اقتصاد کې چې نړیوال بندیزونه هم پرې بار دي، ځان ته بل کار پیدا کړای شي.

دغه بندیز ښځې ډېرې زیانمنوي، خصوصا دې ته په کتو چې د طالبانو د رژیم محدودیتونو د دوی د کاري فرصتونو ساحه ډېره رالنډه کړې. دغه اقتصادي ټکان کروندګرو او کلیوالي کارګرو ته د بدیلونو د برابرولو په برخه کې د طالبانو د محدود ظرفیت له کبله ځو برابره شوی دی. ګڼو کروندګرو د غنمو یا پنبې کښت ته مخه کړې ده، خو د خپلو اړتیاوو پوره کولو په برخه کې له ستونزو سره مخ دي. د مشروع کرنې پراختیا لا زیاتې آبیارۍ، د سړو خونو تاسیساتو او مناسبو سړکونو ته اړتیا لري. سره له دې چې طالبان د دغو امکاناتو د برابرولو جدي هڅې کوی، خو د دغه ډول زېربناوو د جوړولو لهپاره لازمه بودیجه نه لري. په ورته وخت کې د اپینو بیې خورا لوړې شوې دي چې دغه کار کروندګر له بندیز څخه سرغړونو ته هڅوي.

که څه هم افغان حکومت په دې برخه کې د لاسته راوړنو خبرې کوي؛ خو له نشه‌یي توکو سره مبارزې له زیاتو نړیوالو مرستو سره سره، پامونړ پایلې نه دي لرلې. له نشه‌یي توکو سره د مبارزې وزارت د معلوماتو له مخې، په تېر ۱۳۹۴ کال کې ۳۱۱ ټنه نشه‌یي توکي او د نشه‌یي توکو ۲۹۰۶ تنه قاچاقوړونکي نیول شوي، چې ۱۰ تنه یې نړیوال قاچاقوړونکي دي او په دې ډله کې دوه داسې قاچاقوړونکي دي، چې له تېرو لسو کلونو راهیسې یې افغان دولت، امریکا او نور هېوادونه په لټه کې وو او په نړیواله کچه د نشه‌یي توکو د مافیا مخکښان دي.

له نشه‌یي توکو سره د مبارزې وزارت د چارواکو په وینا، د افغانستان له نشه‌یي توکو هر کال ۷۰ ملیارده ډالره لاسته راځي، چې ډېره برخه یې د مافیا او وسلهوالو ډلو جیبونو ته ځي.

نشه‌یي توکي د افغانستان د نورو اساسي ننګونو ترڅنګ یوه لویه ننګونه ده، چې له یوې خوا یې هېواد له بدنامۍ سره مخ کړی او له بلې خوا د بېلابېلو راپورونو له مخې، له ۱ میلیون څخه تر ۳ میلیونو پورې د نشه‌یي توکو روږدي کسان لري او دا یوه ګواښونکې چاره ده.

زمونږ په هېواد کې عصري علومو ته د حکومتونو د بې پروایې له امله او د فني او مسلکي کادرونو نه شتون د دې علت ګرزیدلی چې نه‌شو کولای د مخدره توکو له طبعي موادو نه په صحي برخه، تبابط او د درملو د جوړولو په برخه کې پراخه ګټه پورته شي، نو ځکه په منفی برخو کې تري استفاده تر سره کېږي. لازمي ګڼل کې چې په هېواد کې د نارینه او ښځینو له پاره د تعلیم او لوړو مسلکي علومو زدهکړو او تکنالوژیو د پراختیا دروازې پرانستل شي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ